رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

# اعلیٰ حضرت

## د اُمَّت خیرخواه

**14-August-2025**

هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)



پۀ 14 اګست، کال 2025ء (بمطابق: 19 صَفَر شریف، کال 1447ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کېدونکے بیان

# اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د اُمَّت خیر خواه

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ... س

- د بد ګمانۍ نه بچ کېدل هم خیر خواهي ده
- اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه او دوه قومي نظریه
- تحریکِ ازادي او اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه
- خپل تَشَخُّص بحال ساتئ!

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُالْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ؕ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د **الله** پاک د ټولو اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: پۀ ما باندې نیمګړے دُرُودِ پاک مۀ لولئ، صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُم عرض وکړو: یا رسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دا نیمګړے دُرُودِ پاک څۀ دے؟ د دواړو جهانو سلطان، رحمتِ عالمیان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: تَقُوۡلُوۡنَ اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّ تَمۡسِکُوۡنَ نا مکمل دُرُود دا دے چې تاسو صرف اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ پورې ولولئ او ودریږئ او زما په آل درود اُونه وایئ- بیا یې وفرمائیل: د دې پۀ ځائے داسې لولئ: اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ۔[1]

اُن کے مولیٰ کے اُن پر کروڑوں درود | اُن کے اَصحاب و عترت پہ لاکھوں سلام
پارہائے صُحُف غنچہائے قُدس | اہلِ بیتِ نبوت پہ لاکھوں سلام[2]

**وضاحت:** پۀ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې دې د **الله** پاک له طرفه پۀ کروړونو درودونه او د هغوئي پۀ اصحابو، اهلِ بیتو، خپلوانو او دوستانو باندې دې پۀ لکونو سلامونه نازل شي، د نبي پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اهلِ بیت د اسماني

---

[1] ... الصواعق المحرقه، الباب الحادی العشر...الخ، الفصل الاول...الخ، صفحه:183۔
[2] ... حدائقِ بخشش، صفحه:308، 309۔

صحيفو د حصو پۀ شان دي، هغوئي د مقدسو پاکو غوټو پۀ شان دي، پۀ هغوئي باندې دې پۀ لکونو سلامونه نازل شي۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے۔ (1)

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه وکړو: مَثَلاً ❁ د **اللّٰہ** پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ پۀ اَدب به کښينم ❁ ښۀ پۀ توجُّه به بيان اورم ❁ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## پۀ لالټين کښې د اَرنډې [ زَنډو] تيل (کيسټر آئل *Castor Oil*)

د نن نه تقريباً سل کاله، يا 115 کاله مخکښينې واقعه ده، پۀ هُغه وخت کښې بجلي ډيره عام نۀ وه، خلقو به ډيوې او لالټين (*Lantern*) وغيره بلول۔ پۀ لالټين باندې پۀ اسانۍ سره ځان داسې پوهه کړئ چې دا يو وړوکے شان ليمپ وي، پۀ کوم کښې چې به تيل اچولے شو۔ د خلقو معمول دا وو چې پۀ لالټين کښې به يې د خاورو تيل اچول، د کومو پۀ بليدو چې به بوئي خوريدو، پۀ ډيوه کښې به زياتره د شړشمو يا د اَرنډې تيل (کيسټر آئل *Castor Oil*) اچولے کيدل، د کومو چې به بوئي نۀ وو۔ د اعلیٰ حضرت اِمامِ احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فتویٰ دا ده چې **پۀ جومات کښې د خاورو تيل بلول جائز نۀ دي ځکه چې**

1… بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1۔

## جومات د بد بوئي نه بچ کول واجب دي۔[1]

د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ چې کوم جومات وو، په هغې کښې به لالټین نهٔ بلولے کیدو، ډیوه به لګولے کیدله۔ یو ځل داسې وشو چې شپه وه، باران هم وریدو او سیلۍ هم لګیده۔ په داسې حالت کښې ډیوه بلیدل مشکل وو، ډیوه به یـې لګوله بیا به مړه کیدله، بیا به یـې لګوله بیا به مړه کیدله۔ په بیا لګولو کښې دا مشکل هم وو چې د ماچس په تیلي کښې هم ګوګړ وي، د دې په بلولو هم د یو څو سیکنډو د پاره بوئي ځي، ځکه ماچس هم په جومات کښې بلول منع وو۔ بیا باران، سیلۍ، په داسې حالت کښې بیا بیا د جومات نه بهر وتل، په ماچس باندې ډیوه بلول، بیا ډیر په احتیاط سره دننه راوړل ډیر مشکل کار وو۔

د اعلیٰ حضرت خادِمِ حاجي کفایتُ اللّٰه صاحب د دې حل څهٔ دا راویستو چې لالټین یـې راواخستو او په هغې کښې یـې د خاورو د تیلو په ځائے د اَرنډې تیل (کیسټر آئل ***Castor Oil***) واچول د پاره د دې چې بوئي ترینه نهٔ ځي، دا لالټین یـې بَل کړو او په جومات کښې یـې کیښودو۔ په لالټین کښې شیشه لګیدلې وي، ځکه هغه په سیلۍ باندې نهٔ مړ کیږي۔

اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ چې جومات ته تشریف راوړو او لالټین یـې ولیدو نو په جلال کښې یـې وفرمائیل: حاجي صیب! تاسو به ډیر ځله دا مسئله اوریدلې وي چې په جومات کښې بد بوداره تیل بلول نهٔ دي پکار۔ عرض یـې وکړو: حُضُور! په دې لالټین کښې د اَرنډې تیل دي۔ اوئې فرمائیل: تیریدونکي خلق به په دې خبره باندې څنګه پوهیږي؟ هغوئي خو به هم دا وائي چې نورو له فتویٰ ورکوي چې **په جومات کښې بد بوداره تیل مهٔ بلوئ او پخپله یـې لالټین لګولے دے۔**[2]

---

1... فتاویٰ رضویه، جلد:8، صفحه:102 مفهوماً۔
2... فیضانِ اعلیٰ حضرت، عادات و معمولات، صفحه:121 مفصلاً۔

نور يـې وفرمائيل: که هُم د اَرنډې په تيلو بلول وي نو د دې يوه طريقه ده، د لالټين په خوا کښې ودريږئ او اواز کوئ:چې په دې کښې د اَرنډې تيل دي، په دې کښې د اَرنډې تيل دي، چې تيريدونکي بد ګمانه نۀ شي- حاجي کفايتُ الله صاحب چې دا خبره واوريدله نو په حکم باندې يـې فوراً عمل وکړو او لالټين يـې مړ کړو-(1)

تمهاری شان میں جو کچھ کہوں اُس سے سِوا تم ہو
قسیم جامِ عِرفاں اے شَہ احمد رضا تم ہو
عیاں ہے شانِ صدیقی تمہاری شانِ تقوٰی سے
کہوں اَتقٰی نہ کیوں کر جبکہ خَیْرُالْاَتْقِیَاء تم ہو

وضاحت: اے زما پير او مُرشده! ستاسو په شان کښې چې زۀ څه هم اووايم ستاسو شان د هغې نه ډير زيات اوچت دے، تاسو خو د الله پاک د معرفت جامونو تقسيمولو والا يئ، ستاسو په تقویٰ ليدلو د حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ياد تازه کيږي، تاسو ته د ټولو نه زيات متقي او پرهيزګاره ولې اونۀ وايم؟ تاسو د خپل دور د ټولو نه لوئي متقي يئ-

| | | | |
|---|---|---|---|
| خائفِ کبریا | ہیں رضا ہیں رضا | عاشقِ مصطفٰے | ہیں رضا ہیں رضا |
| صوفیِ باصفا | ہیں رضا ہیں رضا | صاحبِ اِتِّقا | ہیں رضا ہیں رضا |
| عاشقِ اولیا | ہیں رضا ہیں رضا | زینتِ اَتْقیا | ہیں رضا ہیں رضا(2) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د سيرتِ رضا د تقویٰ او د دِيني اِحتياطونو نه په ډکه دې بنکلې واقعه کښې زمونږ د زړه کولو د پاره ډير سبقونه دي:

---

1...فیضانِ اعلیٰ حضرت، عادات و معمولات، صفحہ:121 مفصلاً۔
2...وسائلِ فردوس، صفحہ:62 ملتقطاً۔

## (1): پهٔ عِلم باندې عمل وکړئ!

وروميی خبره دا د زدکړې د پاره ميلاؤ شوه چې د شريعت، د دِين، د عِلم خبرې صرف نورو ته د وئيلو د پاره نهٔ دي بلکې پخپله د عمل کولو د پاره هم دي، يعنې دِيني خبرې نورو ته بيانول يقيناً چې ضروري دي، البته پهٔ دې باندې عمل کول، د دې نه هم زيات ضروري دي- **الله** پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ﴿۳﴾ (پاره:28، سورۂ صف:3) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د الله پهٔ نزد دا ډيره ناخوښه خبره ده چې تاسو هغه ووايئ څهٔ چې اونه کړئ- |

معلومه شوه چې نورو ته نصيحت کول، ښې ښې خبرې بيانول او پخپله پرې عمل نهٔ کول، ډيره سخته او شديده خبره ده، د **الله** پاک هيڅکله هم دا خبره خوښه نهٔ ده-

## د بے عمله نصيحت کوونکو عذاب

**پهٔ حديثِ پاک کښې دي:** رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د مِعراج پهٔ شپه ما وليدل چې د ځينو خلقو شونډې د وور پهٔ قينچيانو پريکړے کيدلې- جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيل: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! دا ستاسو د اُمت واعظان (يعنې نصيحت کوونکي) دي، دوئي به هغه خبرې کولې، پهٔ کومو باندې به چې يې پخپله عمل نهٔ کولو-(1)

اَللّٰہُ اَکْبَر! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** غور وکړئ چې دا څومره سخت عذاب دے- مونږ دې پهٔ خپل ځان باندې غور وکړو، څومره داسې دي کوم چې نورو ته د نصيحتونو ښکلې ښکلې خبرې کوي، ژبه چې ده، د دې خوند ډير خوندور دے، چې کله دا خبرې

---

1...مسندابی داود طیالسی، جلد:3، صفحہ:538، حدیث:2172-

کوي نو خوند کوي خو عمل--!! آه! عمل خو په نفس باندې ګران دے، هډو کولے نهٔ شي- اوس خو داسې ووایی چې دا یو دستور جوړ شوے دے ❀ په سوشل میډیا باندې یو ښهٔ پوسټ ولیدے شو، فوراً یې وړاندې ولیږي او بس فارغ ❀ په واټس ایپ (*WhatsApp*) باندې سټیټس ووینې، سکرین شارټ ترینه واخلي او په خپل سټیټس یې ولګوي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د اړخ نه ښهٔ ښهٔ د قرآن او د حدیث د تعلیماتو نه ډک، د نصیحت نه ډک پوسټونه شیئر (*Share*) کولے شي، ښهٔ ښهٔ سټیټس شیئر کولے شي، په هغې باندې عمومي رَدِّ عمل دا وي چې پوسټ ولولي، په سټیټس یې ولګوي او فارغ شي-

دا هم د نیکۍ دعوت دے، که نیت ښهٔ وي نو د ثواب کار دے، مونږ له دا کار کول پکار دي، د اخوا دیخوا سټیټس لګولو نه خو 100 فیصده بهتر دے خو وړور جانه---!! عمل چرته دے؟ د قرآنِ کریم آیت، حدیثِ پاک، د بزرګانو فرمان د پوسټ په شکل کښې مونږ ته رارسیدلے وو د پاره د دې چې مونږ یې ولولو او په هغې باندې عمل وکړو، مونږ نورو ته ورسولو او خبره ختمه شوه- دا ډیره ناخوښه خبره ده-

د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د سیرت نه مونږ ته دا خبره میلاؤیږي چې مونږ د ښو خبرو نورو ته د وئیلو او رسولو تر حده پورې محدود نهٔ شو **بلکې پخپله پرې د عمل کولو عادت هم جوړ کړو-**

## (2): جومات د بد بوئې نه بچ کوئ!

د سیرتِ رضا د دې ښکلې واقعې نه دویمه خبره دا هم معلومه شوه چې جومات د بد بوئې نه بچ کول ډیر ضروري دي- ❀ د ګرمۍ موسم دے، خوله راغله، د جامو نه بد بوئې ځي ❀ داسې د خُلې نه بد بوئې ځي ❀ کچه پیاز مو وخوړو ❀ کچه اوګه مو وخوړله

❁ د کچه اوګې او د پیازو والا مختلفې چکنیانې مو وخوړلې، ❁ پۀ دهي بهلے او ګول ګپو وغیره کښې عام طور کچه پیاز اچولے کیږي، چې هغه وخورې نو د خُلې نه بد بوئي ځي، پۀ داسې حالت کښې جومات ته تلل منع دي۔[1] ځکه چې جومات د **الله** پاک کور دے، پۀ قرآنِ کریم کښې دي:

اَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ (پارہ:29، سورۂ جن:18) | **ترجمه کنزُالعِرفان:** دا چې جوماتونه هُم د **الله** دي۔

ځکه زمونږ د ټولو وړومبے حق جوړیږي چې جوماتونه د بد بوئي نه لازمي طور بچ کړے شي۔ د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کمال تقویٰ ته وګورئ چې د ماچس د بلولو نه صرف یو څو سیکنډه بد بوئي ځي، د دې باوجود د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ جومات مبارک کښې د ماچس د بلولو اجازت هم نۀ وو۔ پۀ ځنې کښې چې کله پۀ جومات کښې هیټر وغیره لګوي نو ماچس عام طور پۀ جومات کښې بلوي، حالانکه ماچس په جومات کښې بلول نۀ دي پکار۔ مونږ له پکار دي چې مونږ د جومات ښځپله ادب او احترام کوو او هر هغه کار، هر هغه عمل، هر هغه انداز د کوم سره چې پۀ جومات کښې بوئي راځي، د جومات بے ادبي کیږي، د داسې کارونو نه مونږ لازمي طور ځان بچ ساتو۔

## (3): د بد ګمانئ نه بچ کیدل هم خیر خواهي ده

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د سیرتِ رضا د دې ښکلې واقعې نه یو اهم سبق دا هم میلاؤ شو چې خلق د بد ګمانئ نه بچ کول هم پۀ مونږ باندې لازم دي۔ هر هغه کار کوم چې نور خلق پۀ بد ګمانئ کښې اخته کولے شي، مونږ له پکار دي چې د هغه کار نه ځان وساتو۔ دا ډیره لویه خیر خواهي ده۔

---

[1]...بہارِ شریعت، جلد:1، صفحہ:648، حصّہ:3ملخصاً۔

غریب له پیسې ورکول هم خیر خواهي ده ❁ وږي مړول هم خیر خواهي ده ❁ ضرورت مند له جامې اخستل هم خیر خواهي ده ❁ د مسلمانانو وروڼو سره نیکي کول او ښهٔ سلوک کول هم خیر خواهي ده، دا ټول د خیر خواهیِ صورتونه دي، البته! د ټولو نه لویه خیر خواهي دا ده چې مونږ د چا د جنَّت د حقدار جوړولو یا د دوزخ نه د بچ کولو ذریعه جوړه شو-

یاد ساتئ چې هره ګناه د دوزخ حقدار جوړونکې ده، بد ګماني هم ګناه ده،(1) که یو کَس، زمونږ یو مسلمان ورور زمونږ په وجه په بد ګمانیِ کښې اخته کیږي نو یقیناً چې مونږ د خپل مسلمان ورور د پاره د دوزخ د لارې پرانستو سبب جوړیږو، ځکه مونږ له پکار دي چې داسې یو کار هم نهٔ کوو چې لیدونکے په بد ګمانیِ کښې اخته شي- د مثال په توګه مونږ د شرابیانو په خوا کښې ولاړ یو، نو لیدونکے مونږه هم په شرابي ګڼلو هیڅې بے هیڅه په بد ګمانیِ کښې اخته کیدے شي ❁ مونږ په موبائل باندې پټې پټې خبرې کوو، خلق بد ګماني کولے شي چې کیدے شي څهٔ غلطه معامله ده، ځکه ضرورتاً که پټه خبره هم کول وي نو د احتیاط نه کار اخستل پکار دي ❁ درې څلور کسان ناست وي، دوه کسان د یو بل په غوږ کښې پټې پټې خبرې کوي، ظاهره ده چې ناست خلق په بد ګمانیِ کښې اخته کیدے شي ❁ که مونږ د سنوکر کلبونو ته بیا بیا ځو نو خلق به په بد ګمانیِ کښې اخته کیږي ❁ دغه شان زمونږ د واټس ایپ سټیټس، زمونږ په ***DP*** باندې لګیدلې تصویرونه، زمونږ د طرف نه بیا بیا شیئر کیدونکې پوسټونه وغیره هم زمونږ د شخصیت عکاسي کوي، په دې کښې هم احتیاط کول پکار دي چې هسې نهٔ یو ګس زمونږه د سټیټس په کتو، د ***DP*** په تصویر کتو په بد ګمانیِ کښې اخته نهٔ شي- غرض دا باقاعده مونږ له په خپل ذِهن کښې کښینول پکار دي چې مونږ له هیڅ یو داسې کار نهٔ دي

1... فتاوٰی رضویہ، جلد:8، صفحہ:80ماخوذاً۔

کول پکـار، د کوم له وجهي چې خلق زمونږ په باره کښې په بد گمانۍ کښې اخته شي۔

## د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښکلے انداز

په **بُخاري شريف** کښې روايت دے، حضرت صَفِيَّه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا کومه چې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کور وداني ده، يو ځل رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اعتکاف ته ناست وو، حضرت صفيه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا د ملاقات د پاره جومات ته حاضره شوه، (په هٰغه وخت کښې زنانۀ ته جومات ته د حاضريدو اِجازت وو، وروستو منع کړے شوې، خير!) خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د واپسۍ په وخت د هغې د رخصتولو د پاره د جومات د دروازې پورې تشريف راوړو، چې د دروازې خوا له راورسيدو نو اوئې کتل چې 2 صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہما په کوڅه تيريږي، ظاهره ده چې حضرت صَفِيَّه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا به نقاب وغيره کړے وو، رسولِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هٰغه صحابۀ ته وفرمائيل: دا صَفِيَّه (زما کور وداني) ده۔

چې د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم په شان عظيم عاشقان وي، مخې ته يې د محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په شان هستي وي، دا ممکنه نۀ ده چې د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم په زړونو کښې د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په باره کښې څۀ منفي خيال راشي، د دې باوجود آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي ته ووئيل چې دا زما کور وداني ده۔ صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہما په ادب سره عرض وکړو: سُبْحٰنَ اللّٰہ! يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! يعني اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زمونږه داسې گمان هم نۀ شي کيدے چې ستاسو په باره کښې څۀ منفي خبره په زړۀ کښې راولو۔ حُضُورِ اَکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: بے شکه شيطان د انسان د وينې سره په رګونو کښې منډې

وهي، زما سره ويره شوه چې هغه ستاسو په زړهٔ کښې څهٔ منفي خيال وا نهٔ چوي،[1]

سُبْحٰنَ الله! دا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارک انداز دے، مونږ له هم دا انداز اختيارول پکار دي. الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راکړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

مجھے غیبت و چغلی و بدگمانی | کی آفات سے تُو بچا یاالٰہی![2]

## د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ مختصر تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اے د رضا عاشقانو! اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ د عاشقانو اِمام دے ❀ د سُنیانو اِمام دے ❀ د عالمانو اِمام ❀ د عابدانو اِمام ❀ د زاهدانو اِمام ❀ د تقویٰ والؤ اِمام ❀ د فُقها، مُحَدِّثينو، مُفَسِّرينو اِمام دے ❀ هغوئي مُجتَهِد هم دے ❀ مُفَسِّر هم دے ❀ مُحَدِّث هم دے ❀ ډير لوئي عالِم هم دے ❀ ډير ذهين مفتي هم دے ❀ د قرآنِ حافظ هم دے ❀ او د ټولو نه زيات د مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رښتونے عاشق هم دے-

ایک سچا عاشقِ نورِ مجسم بولیے | ان کو ان کے عہد کا سالارِ اعظم بولیے
جن سے ہوں آباد علم و آگہی کی بستیاں | ہیں جنم لیتی کئی صدیوں میں ایسی ہستیاں

په 10 شوال کال 1272 هجری مطابق 14 جون کال 1856ء کښې هغوئي د هندوستان په بريلي ښار کښې پيدا شولو ❀ هغوئي د 4 کالو په عمر کښې د قرآنِ کريم ناظره ختمه کړله ❀ صرف د 13 کالو 10 مياشتو 4 ورځو عمر کښې يې دِيني عِلم مکمل کړو او وړومبی فتویٰ يې وليکله ❀ اندازتاً د 70 نه په زياتو علومو کښې يې

---

1...بخاری، کتاب الاعتکاف، باب ھل یخرج...الخ، صفحہ:531، حدیث:2035 مفصلاً۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:101۔

څه کم یا زیات 1000 کتابونه ولیکل ❀ د قرآنِ کریم ترجمه کَنزُ الاِیمان ❀ فتاویٰ رضویه ❀ حدایقِ بخشش، د هغوئي عِلمي او ادبي کارنامې دي ❀ اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ دوه کرته د حج سعادت حاصل کړو ❀ پهٔ دویم ځل چې کله د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم روضې مبارکې ته حاضر شو نو خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي ته په ویښه خپل دیدن عطا کړلو ❀ تقویٰ او پرهیزګاري یـې دومره وه چې یواځې د فرائضو او واجباتو پهٔ سختیٖ سره پابند نهٔ وو بلکې سُنَّت او نفلونه او مُستَحَبَّات به یـې هم نهٔ پریښودل ❀ کم خوراک به یـې کولو، کم به اودهٔ کیدلو ❀ اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ پهٔ 25 صفر الـمظفر کال 1340 هجریٖ مطابق 28 اکتوبرکال 1921ء د جُمعې په ورځ د دې فاني دُنیا نه سفر وکړو ❀ د هغوئي مزار پهٔ بریلي شریف کښې دے- پهٔ 25 صفر الـمظفر پهٔ ټوله دُنیا کښې د هغوئي عرس نمانځلے شي-[1]

| | |
|---|---|
| تُو نے باطل کو مٹایا اے اِمام احمدرضا | دِین کا ڈنکا بجایا اے اِمام احمدرضا |
| اہلِ سنّت کا چمن سر سبز تھا شاداب تھا | تازگی تُو اور لایا اے اِمام احمد رضا |
| تُونے باطل کو مٹا کر دین کو بخشی جِلا | سنّتوں کو پھر جِلایا اے اِمام احمدرضا |
| حشر تک جاری رہے گا فیض مرشد آپ کا | فیض کا دریا بہایا اے اِمام احمدرضا( 2 ) |

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب!　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د اُمَّت خیر خواه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ پهٔ اعلیٰ صفتونو کښې یو ډیر اهم صفت دا هم دے چې هغوئي **د اُمَّت خیر خواه وو**- د هغوئي پاک سیرت که ولوستلے

1…فیضانِ اِمامِ اہلسنت، خصوصی شمارہ، ص22تا24 ملخصاً بتصرف۔
2…وسائلِ بخشش، صفحہ:452۔

شي نو د سَر نه تر اخره پورې د هغوئي ټول ژوند مونږ ته د اُمَّت د خير خواهۍ، ښيګړې او ترقۍ د پاره وقف په نظر راځي-

د هغوئي د خير خواهۍ د جذبې اندازه د دې نه ولګوئ چې اعلیٰ حضرت اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه څه کم يا زيات زر [1000] کتابونه ليکلي دي، هغوئي به روزانه صرف **د يوې نيمې نه تر دوو ګينټو** پورې ارام فرمائيلو(1) او باقي ټول وخت به هغوئي په تصنيف و تاليف [يعني کتابونو ليکلو] او د اُمت د خير خواهۍ، ښيګړې او اِصلاح او په نورو ديني کارونو کښې تيرولو-

تاسو اندازه ولګوئ چې دا څومره لويه قرباني ده، يقين وکړئ چې که اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دومره کتابونه نۀ وو ليکلي نو نن به مسلمان اُمت په ډيرو دِيني مسئلو کښې محتاجه وو- د نوو نوو پيدا کيدونکو مسئلو حل او د دِين د عقيدو تشريحات که اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل خوب او ارام نۀ وے قربان کړے، په دې باندې يې ليکل نۀ وے کړے نو نن به د دغه مسئلو حل راويستل نا ممکن که نۀ وو نو ډير ګران به ضرور وو- خو قربان شم! اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اُمت د خير خواهۍ د جذبې لاندې خوب او ارام قربان کړو، شپه ورځ يې په ځان يو کړل او په ډير محنت او خوارۍ مسلسل په کار، کار او کار کښې مصروف وو، تر دې پورې چې که هغوئي به بيمار شو، طبيعت به يې ښۀ نۀ وو نو د طبيعت پروا کولو بغير به هم د ليکلو په کار کښې مصروف اوسيدو د پاره د دې چې اُمت ته فائده ورسي-

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دومره ډيرو کتابونو ليکلو نه مونږ ته نن کومې کومې فائدې رارسي، د دې يوه نظاره تاسو ته وړاندې کووم-

---

1...فیضانِ اعلیٰ حضرت، صفحہ:108۔

## يوې جُملې يــې مسئله حل کړه

د يو مَدَني اِسلامي ورور بيان دے، وائي چې مونږ دَرسِ نظامي (يعني عالِم کورس) کښې سبق وئيلو، يوه ورځ اُستاذِ محترم پهٔ سبق پوهه کړو،خو پهٔ هغې باندې زما پهٔ ذِهن کښې څهٔ پوښتنې راوچتې شوې، د استاذ صاحب پهٔ خدمت کښې مې عرض کړې، استاذ صاحب يــې وضاحت وکړو خو تسلي مې اونه شوه، تقريباً د پيريډ 40 منټه د دې مسئلې پهٔ باره کښې پهٔ خبرو اترو کښې تير شو ❁ پهٔ بله ورځ بيا پهٔ دې مسئله باندې د استاذ او د شاګرد ترمينځهٔ عِلمي مذاکره شروع شوه، ټول پيريډ بيا پهٔ دې موضوع باندې تير شو ❁ پهٔ دريمه ورځ هم داسې وشو، مسئله وه چې هډو حل کيده نهٔ، اخر داسې وشو چې هُغه مسئله خو پهٔ ذِهن کښې وه، پريشاني خو پهٔ ذِهن کښې جوړه وه، اخر زهٔ لائبريرۍ ته لاړم، فتاویٰ رضويه شريف مې راواخسته، 27 جلد مې پرانستو او لوستل مې چې شروع کړو نو اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! هُغه مسئله کومه چې د دريو ورځو پهٔ عِلمي خبرو هم نهٔ وه حل شوې، د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ليکلې يوه جُمله يــې ولوستله، پهٔ دې باندې ټوله مسئله حل شوه۔

اَللّٰہُ اَکۡبَر! تاسو وګورئ چې دا د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ څومره عظيمه خير خواهي ده، هغوئي پهٔ خپلو خوبونو قربانولو، ارام يو طرفته پهٔ کيښودو، اُمت ته دومره لوئې عِلمي ذخيره عطا کړه چې مونږ ټول ژوند هم د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ پهٔ کتابونو باندې تحقيقات کوو نو دا هم کم دے۔

وادی رضا کی کوہِ ہمالہ رضا کا ہے | جس سَمت دیکھئے وہ عَلاقہ رضا کا ہے
اَگلوں نے بھی لکھا ہے بہت علمِ دین پر | جو کچھ ہے اِس صدی میں وہ تنہا رضا کا ہے

## اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ او دوه قومي نظريه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د خير خواهۍ سلسله ډيره

اوړده ده، د هغوئي د سیرت یو یو اړخ د اُمت د خیر خواهۍ د پاره وقف په نظر راځي-

اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! نن **14 اګست** دے، دا هُغه ورځ ده چې د نن نه تقریباً 78 کاله مخکښې په 14 اګست کال 1947 عیسوی زمونږه خوږ وطن پاکستان ازاد شوے وو، د مسلمانانو یو ازاد اِسلامي ریاست نصیب شوے وو، د پاکستان د وجود چې کوم بنیاد دے یعني دوه قومي نظریه، په بر صغیر کښې د دوه قومي نظریې باني او د دې مکمل طور څوکۍ کوونکے هم اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه دے-

یقین وکړئ چې د دې دوه قومي نظریې د څوکیدارۍ کولو د پاره اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه دومره قربانۍ ورکړې دي، دومره قربانۍ ورکړې دي چې مونږ سوچ هم نۀ شو کولے-

## دوه قومي نظریه د تاریخ په آئینه کښې

هسې خو چې کومه دوه قومي نظریه ده، دا قرآني نظریه ده، په قرآنِ کریم کښې صفا طور د دوه قومي نظریې تعلیم موجود دے، **اللّٰه** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| قُلۡ یٰۤاَیُّهَا الۡكٰفِرُوۡنَ ۙ﴿۱﴾ لَاۤ اَعۡبُدُ مَا تَعۡبُدُوۡنَ ۙ﴿۲﴾ (پاره:30، سورۂ کافرون:21) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: ته وفرمایه! اے کافرو! زۀ د هغوئي عبادت نۀ کووم د کومو چې تاسو عبادت کوئ- |

په قرآنِ کریم کښې دا پوره سُورت دے، **سورۂ کافِرُون**- په دې ټول سُورت کښې دوه قومي نظریه ده-

د بر صغیر که چرې خبره وکړے شي نو دلته د ټولو نه وړومبے دوه قومي نظریه حُضُور مجدِّدِ الف ثاني رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه بیان کړه-[1] او که مونږه د پاکستان د ازادۍ په تحریک کښې

[1]...دو قومی نظریہ (مجدد الف ثانی اور اقبال کی نظر میں)، صفحہ:10 ماخوذاً۔

وکورو نو دا نظريه د ټولو نه وړومبے اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه پيش کړه، يواځې يـې پيش نۀ کړه بلکې د دې يـې پۀ سختئ سره څوکيداري هم وکړه- پۀ کال 1897ء کښې **د هندوستان پۀ ښار پټنه** کښې يو کانفرنس وشو، پۀ کوم کښې چې اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه باقاعده دوه قومي نظريه بيان کړه-[1] او صرف پۀ تقرير او پۀ ليکلو کښې نۀ بلکې اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د شعرونو پۀ رڼا کښې هم دوه قومي نظريه ډيره خوره کړه- د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه مشهور شعر دے:

وه کہ اُس در کا ہوا، خَلْقِ خُدا اس کی ہوئی | وه کہ اُس دَر سے پھِرا، اللہ اُس سے پھِر گیا[2]

دا د دوه قومي نظريې بيان دے- اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ليکلي دي:

انہیں جانا، انہیں مانا، نہ رکھا غیر سے کام | لِلّٰہِ الْحَمْد میں دُنیا سے مسلمان گیا[3]

دا هم د دوه قومي نظريې بيان دے- د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ورور جان مولانا حَسَن رضا خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ليکلي دي:

اپنا عزیز وه ہے، جسے تُو عزیز ہے | ہم کو ہے وه پسند، جسے آئے تُو پسند[4]

دا هم صفا صفا د دوه قومي نظريې بيان دے-

## د ازادئ تحريک او اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه

د پاکستان چې کوم د ازادئ تحريک دے، د دې لړ پۀ تاريخ باندې نظر واچوئ، يو وخت وو چې لوئې لوئې ليډران هُم د دوه قومي نظريې قائل نۀ وو ❁ دوئې د مسلمانانو او

1...دو قومی نظریہ اور علمائے اہلسنّت، صفحہ:2ماخوذاً۔
2...حدائقِ بخشش، صفحہ:53۔
3...حدائقِ بخشش، صفحہ:55۔
4...ذوقِ نعت، صفحہ:126۔

د غير مسلمو پهٔ يو کيدو باندې کار کولو ✿ پهٔ دې کښې **د خلافت تحريک** شروع شو، تول ځغه طرف ته شو ✿ **تحريکِ تَرکِ مَوَالات** شروع شو، تول ځغه طرف ته شو ✿ غير مسلمه (مَعَاذَالله!) با قاعده پهٔ منبرونو باندې کښينولے شو، پهٔ هغوئي باندې د جُمعې تقريرونه وکړے شو ✿ غير مسلمه د قرآنِ پاک د تعليماتو پهٔ مقابله کښې ودرولے شو، پهٔ ځغه وخت کښې صرف او صرف اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه وو کوم چې د خپلو تقريرونو او ليکلو پهٔ ذريعه دوه قومي نظريه بيانوله-

## زهٔ خاموشه څنګه پاتې شم---؟

د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه خليفه حُضُور سيدي قُطبِ مدينه رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ليکلي دي چې ځغه وخت کله چې اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه دوه قومي نظريه بيانوله، د قرآن او د حديث پهٔ رڼا کښې يې پهٔ دوه قومي نظريه باندې پهٔ دليلونو پسې دليلونه ورکول، پهٔ کتابونو پسې يې کتابونه ليکل، ځغه وخت لوئي لوئي ليډران هم د دوه قومي نظريې قائِل نهٔ وو، يو ځل څه ليډران د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه پهٔ خِدمت کښې حاضر شو او عرض يې وکړو: مونږ چې د مسلمانانو او غير مسلمو د يو والي کومه خبره کوو، دا د وخت ضرورت دے، مهرباني وکړئ تاسو يې مخالفت مهٔ کوئ- اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د قرآن او سُنَّت نه پهٔ دليلونو ورکولو هغوئي پوهه کړل چې د وخت ضرورت د غير مسلمو سره يو ځائے کيدل نهٔ بلکې دوه قومي نظريه ده، څکه به هيڅکله هم زهٔ ستاسو ملګرتيا اونهٔ کړم-

هغوئي عرض وکړو: ټيک ده، تاسو زمونږ ملګرتيا مهٔ کوئ خو خواست دے چې زمونږ مخالفت هم مهٔ کوئ، بس خاموشي اِختيار کړئ- بيا د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ايمان تازه کوونکې او د اُمت د خير خواهۍ د جذبې نه ډکې جُملې هم واورئ! اوئې فرمائيل: محمد علي---!! زهٔ خاموشه څنګه پاتې شم---؟ زهٔ مسلمانان د غير مسلمو پهٔ دوکه او ټګۍ کښې

انښتي څنګه ووينم؟ **کومه نظريه چې تاسو اختيار وی، پهٔ دې باندې خو به مسلمانان د غير مسلمو غلامان شي- زه هيڅکله هم پهٔ دې خبره باندې خاموشه نهٔ شم پاتې کيدے۔**[1]

سُبْحٰنَ الله! **خورو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دا دے د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پاک سيرت، هم هغوئي دي، د چا د خير خواهۍ پهٔ وجه چې د پاکستان بانيانو ته دوه قومي نظريه ميلاؤ شوه، هُم د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هُغه خاموش محنتونه او قربانۍ وې، د کومو پهٔ برکت چې نن زمونږ سره يو **ازاد اِسلامي ملک** موجود دے-

## د مسلمان اُمَّت د ترقۍ او کاميابۍ نُسخه

**خورو او محترمو اِسلامي وروڼو!** اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اُمت خير خواه دے، هغوئي د اُمت د ترقۍ او کاميابۍ د پاره باقاعده يوه رساله وليکله، د کومې نوم چې دے: **تَدبِيرِ فَلاح و نجات** (يعنې هُغه کوم تدبيرونه او طريقې دي، د کومو پهٔ اختيارولو چې مسلمانان ترقي او کاميابي حاصلولے شي)- نن 14 اګست دے، **د يومِ ازادي پاکستان جشن** دے، څکه راځئ چې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې رسالې پهٔ رڼا کښې مونږه د خپل خوږ وطن د ترقۍ او د کاميابۍ نُسخه واورو او نيت وکړو چې مونږ به د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ دې نصيحتونو پوره عمل کوو-

هسې خو اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ دې مبارکه رساله کښې 4 نصيحتونه کړي دي، که مونږ د دې خُلاصه راوباسو نو دا دوه دي: (1): فرمائي: مسلمان دې د مسلمانانو همدرد او خير خواه جوړشي (2): فرمائي: مسلمانان دې پهٔ خپل دِيني تَشَخُّص (يعنې پهٔ خپل مذهب، تهذيب، پهٔ خپلو دِيني طور طريقو، ظاهري شکل او صورت وغيره) باندې پهٔ مضبوطۍ سره قائِم اوسي، د غير مسلمو نقلونه دې هيڅکله نهٔ کوي- که دا دوه نُسخې

[1] ...سيدی قطبِ مدينه، جلد:1، صفحه:456-

چرې اختيار کړے شي نو د دې په برکت مسلمانان په ټوله دُنيا کښې ترقي او کاميابي حاصلولے شي۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** نيت وکړئ چې مونږ به د خپل خوږ وطن د پاره، د خپلې ترقئ او کاميابئ د پاره دا دواړه طريقې عملي طور لازمي اختياروو۔

## (1): همدرد او خير خواه جوړ شئ!

وړومبے نصيحت دا چې مونږ ته (عام طور د ټولې دنيا د مسلمانانو خصوصاً) د خپل خاندان، محلې، ښار او د ټول ملک د هر يو مسلمان د پاره خير خواه او همدرد جوړيدل دي۔ ❀زما د طرف نه يو پاکستاني ته هم هيڅ قِسمه تکليف نۀ دي رسيدل پکار، ❀تکليف خو غټه خبره ده په ما باندې لازم دي چې د هر يو مسلمان عاشق رسول صرف او صرف خير غواړم، په يو وخت، په يو ساعت او په يو حالت کښې هم د چا هيڅکله هم څۀ بد نۀ غواړم ❀ که څوک زما ما تحت دے يا زما مشر دے ❀ زما رشته دار دے يا کاؤنډي دے ❀ دوست دے او که نۀ دے❀ پيژندګلو والا دے او که نا اشنا دے ❀ که هر يو عاشقِ رسول دے، ما ته د هغۀ صرف او صرف هم خير غوښتل دي۔

## د مسلمان خير خواهي فرضِ عَين ده

اعلیٰ حضرت رَحمَۃُاللہِ عَلَیہ فرمائي: د زړۀ نه د مسلمان خير خواهي فرضِ عَين ده۔[(1)] يعنې چې زمونږ په زړۀ کښې چرې هم د يو مسلمان بد رانشي، مونږ د زړۀ نه د هر مسلمان صرف او صرف خير غواړو، دا هم داسې فرض دي، لکه څنګه چې نـمونځ فرض

[1]... فتاوی رضویہ، جلد:14، صفحہ:174۔

دے- نور فرمائي: **د مال وغيره په ذريعه د مسلمان خير خواهي فرضِ کفايه ده-**[1] يعنې که د چا مال ته ضرورت دے، بيا څوک مسلمان د خپل هغه محتاج مسلمان ورور مالي خدمت وکړي، د هغه سره خير خواهي وکړي، نو د ټولو مسلمانانو فرض خلاص شو، ولې؟ ځکه چې دا فرضِ کِفايه ده-

دا خورمره اهمه نکته ده، مونږ د يو مسلمان په باره کښې په زړه څه بد نه شو راوستے. مثلاً ❁ کاش چې د هغه کاروبار په ټپه ودريږي، دا غوښتل د ګناه کار دے ❁ الله دې کړي چې هغه خو ګونګے شي ❁ فلانکے خو چې بس مړ شي نو په زمکه باندې به بوج کم شي ❁ زما که وَس کيدے نو جيل ته به مې ليږلے وو- د خپلو مسلمانانو ورونو په باره کښې داسې د نفرت نه ډک چې کوم جذبات په زړونو کښې ساتلے شي، دا د ګناه کارونه دي، مونږ د هيڅ يو مسلمان ورور بد نه شو غوښتے- هميشه به خير خواهي کوو، همدردي به يې کوو-

## د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه د خير خواهۍ انداز

د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه د خير خواهۍ انداز ته ګورئ! ❁ د هغوئي عادت مبارک وو چې هر کال به يې د يخنۍ په موسم کښې برستنې (يعنې د اغوستو د پاره د مالوچو نه ډکې کړے شوې څادرې) نوې ګنډلې او په غريبانانو به يې تقسيمولې، يو ځل د يخنۍ په موسم کښې هغوئي برستنې تقسيم کړې وې، د ځان د پاره يې هم نه وې پريښودې، د هغوئي کشر ورور مولانا محمد رضا خان رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه د هغوئي د پاره يوه خاص برستن جوړه کړه، هغوئي چې څنګه واغوستله نو چا ترينه سوال وکړو، هغوئي فوراً هغه برستن کوزه کړه او هغه غريب له يې ورکړه[2] ❁ جناب ذَکاءُ الله صاحب د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه خادم وو، يو ځل د يخنۍ موسم وو، اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه ګرم څادر اچولے وو، د مانښام

---

1...فتاوی رضویہ، جلد:14، صفحہ:174۔
2...فیضانِ اعلیٰ حضرت، صفحہ:175-176۔

نـمونځ یـې وکړو، د جومات نه بهر یـې تشریف راوړو، ذَکاءُ الله صاحب یـې ولیدو، د هغوئي سره ګرم څادر نۀ وو، اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه فوراً څادر کوز کړو او خپل خادم ته یـې عطا کړو- د دې واقعې نه دوه یا درې ورځې پس د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه د پاره نوے څادر تیار کړے شو، قربان شم! هغوئي هٰغه نوے څادر واچولو او جومات ته لاړو، هلته یـې یو مسافر ولیدو، د هغۀ سره ګرم څادر نۀ وو، هغوئي هٰغه نوے څادر کوز کړو او هٰغه نا اشنا مسافر له یـې ورکړو-(1)

سُبۡحٰنَ الله! څومره عظیم شان یې دے، څنګه سخاوتونه دي، ځپله به یـې یخني کیږي، ځان به پۀ مشقت کښې اچوي، د دې ورسره هیڅ غم نشته، چې مسلمان ورور پۀ سخته کښې راګیر نۀ شي، د دې ورسره هر وخت غم وي-

د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه یو بل انداز مبارک ته وګورئ! هغوئي د خپلو ❁ عزیزانو ❁ خپلوانو ❁ ملګرو او ❁ خاص خاص مُریدانو د نومونو یو اوږد لسټ جوړ کړے وو- د سحر د نـمونځ نه پس او د اورادو او وظیفو پۀ اخره کښې به یـې د هٰغه ټولو نومونه اخستل او دُعا به یـې ورته کوله- سیّد ایوب علي صاحب فرمائي چې یوه ورځ زۀ ډیر پریشانه ووم، د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه پۀ بارګاه کښې مې د دُعا د پاره عرض وکړو، هغوئي دُعا وکړه او ورسره ورسره یـې ما او زما ورور سید قناعت علي ته وفرمائیل: ستاسو د دواړو نومونه ما د دُعا پۀ لسټ کښې شامل کړي دي کوم چې پۀ ورو ورو ډیر اوږد شوے دے، دا ټول نومونه ما ته یاد دي، روزانه د هر نوم پۀ اخستو د ټولو د پاره دُعا کووم- (2)

سُبۡحٰنَ الله! څومره ښکلې ادا ده--! چې مونږه پۀ خپل ځان باندې لږ غور وکړو، ډیر د لرې تللو ضرورت نشته، چرته یوه ورځ د خپل موبائل جائزه واخلو! پۀ موبائل کښې کونټیټ لسټ

---

1...فیضانِ اعلیٰ حضرت، صفحہ:176-

2...فیضان اعلیٰ حضرت ، صفحه:180-

(*Contact List*) کولاو کړو! اوئي ګورو! په هغې کښې د څومره کسانو نمبرې سیو دي، یقیناً چې د چا نمبر سیو دے، چرته به ستاسو د هغوئي سره څۀ نا څۀ تعلق ضرور پاتې شوے وي، اوس لږ غور وکړئ! چې کله مونږ نـمونځ کوو، د خپل رَبّ په حضور کښې د دُعا د پاره لاسونه اوچتوو، مونږ د خپل ځان د پاره ډیر څۀ غواړو، مثلاً ❁ مولیٰ! ما ته د دُنیا خیرونه هم راعطا کړې ❁ مولیٰ! ما ته د آخرت خیرونه هم راعطا کړې ❁ مولیٰ! زما کور کلے ښۀ کړې ❁ اے رَبِّ کریمه! زما بال بچ ښۀ کړې ❁ زما اهل و عیال ښۀ کړې۔

چرته غور وکړئ چې زمونږ په موبائل کښې چې دا دومره نمبرې سیو دي، په دې کښې ❁ زمونږ د ورونړو نمبرې شته ❁ د عزیزانو خپلوانو نمبرې شته ❁ د دوستانو ملګرو نمبرې شته ، آیا مونږ چرته د هغوئي د پاره هم دُعا کړې ده---؟ آیا چرته د دُعا کولو په وخت مو دا خلق په خیال کښې راغلي دي؟ د ډیر لرې خبرې نه کووم، دا هٰغه خلق دي د کومو سره چې زمونږه څۀ نا څۀ تعلق دے یا پاتې شوے وو۔ مونږ د دوئي د پاره هم دُعا نۀ کوو، د اعلیٰ حضرت رَحمَۃُاللّٰہِ‌عَلَیہ شان ته وګورئ! چې هغوئي د خپلو خپلوانو، دوستانو تر دې پورې چې د خپلو مُریدانو د نومونو هم یو لسټ جوړ کړے وو او قربان شم! فرمائي: دا ټول نومونه ما ته زباني یاد دي او زۀ روزانه د نوم اخستو سره د دوئي د پاره دُعاګانې کووم۔

## د بخښنې سبب څۀ جوړ شو---؟

د اعلیٰ حضرت رَحمَۃُاللّٰہِ‌عَلَیہ عادت مبارک وو چې هغوئي به عام طور په جنازو کښې شرکت کولو او د جنازې چې څومره هُم دُعاګانې په حدیثونو کښې راغلې دي، ټولې به یـې لوستلې۔ په بریلي شریف کښې نواب عزیز احمد نومې یو صاحب اوسیدو۔ په ظاهره د هغوئي ژوند په نیک اعمالو کښې نۀ وو تیر شوے، چې هغوئي کله وفات شول نو اعلیٰ حضرت رَحمَۃُاللّٰہِ‌عَلَیہ د هغوئي جنازه وکړه۔ وروستو هٰغه نواب عزیز احمد صاحب د هغوئي

کور وداني پۀ خوب کښې پۀ ډير ښۀ حالت کښې وليدلو، کور وداني ترينه پوښتنه وکړه: ستاسو د بخښنې څۀ سبب دے؟ نواب صاحب ووئيل: اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه زما جنازه وکړه او دومره دُعاگانې يې وکړې چې زما ټول گناهونه اوبخښلے شول! (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے زما د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ---!!

| | |
|---|---|
| مصطفٰی کا دُلارا ہمارا رضا | غوثِ اعظم کا پیارا ہمارا رضا |
| جس کو سب اچھے کہتے ہیں اچھے میاں | ہے اس اچھے کا اچھا ہمارا رضا |
| غم نہیں حشر سے مجھ کو کچھ اے محبّؔ! | ہے مدد کرنے والا ہمارا رضا |

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا دے د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د خير خواهۍ انداز- کاش چې مونږ هم دا انداز اِختيار کړو، بس د خپلو مسلمانانو پۀ حق کښې د خير او ښيگړې غوښتلو والا جوړ شو-

## د مسلمان د زړۀ خوشحالولو فضائل

❁ د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: اِنَّ مِنْ وَاجِبِ الْمَغْفِرَةِ اِدْخَالُكَ السُّرُوْرَ عَلٰی اَخِيْكَ الْمُسْلِم يعنې ستاسو د خپل مسلمان ورور زړۀ ته خوشحالي داخلول د بخښنې واجب کوونکو اعمالو نه دي(2) ❁ پۀ يو حديثِ پاک کښې دي: اِنَّ اَحَبَّ الْاَعْمَالِ اِلَی اللهِ بَعْدَ الْفَرَائِضِ اِدْخَالُ السُّرُوْرِ عَلَی الْمُسْلِم يعنې د الله پاک پۀ نزد د فرضو نه پس د ټولو نه خوښ عمل د مسلمان زړۀ ته خوشحالي داخلول دي-(3)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا فضيلت مونږ له حاصلول پکار دي- بس هم د نن

---

1...فيضانِ اعلیٰ حضرت ص 181۔
2...معجم کبير، جلد:2، صفحه:214، حديث:2672۔
3...معجم اوسط، جلد:6، صفحه:37، حديث:7911۔

نه دا پوخ نيت وکړئ چې ما ته هم فائده مند جوړيدل دي، نورو ته فائده رَسَوَل دي، د خپلو مسلمانانو ورونو زړونه خوشحالول دي- چې دا مونږه وکړو نو اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الۡکَرِیۡم! زمونږه خوږ ملک بلکې د ټولې دُنيا مسلمانان به د ترقۍ او کاميابۍ طرف ته روان شي-

## د مسلمان د خير خواهۍ په باره کښې نصيحتونه

د مسلمانانو سره د خير خواهۍ، ښيګړې او همدردۍ اختيارولو په باره کښې د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ يو څو نصيحتونه واورئ! هغوئي فرمائي: ✿ د مسلمانانو اِعَانت (يعنې د هغوئي مدد کول) د **اللّٰه** پاک ډير خوښ دي- **په حديثِ پاک کښې دي:** **اللّٰه** پاک د خپل بنده تر هغه وخته پورې مدد فرمائي، تر کومې پورې چې هغه د خپل مسلمان ورور مدد کوي ✿ بغير د تحقيق نه د يو مسلمان طرف ته د ګناه نسبت کول حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے (يعنې مونږه بغير د څۀ وجهې نه په اوريدلے شوو خبرو کښې په راتلو سره دا نۀ شو وئيلے چې فلانکے دروغ وائي، فلانکے بے نمانځه دے، فلانکے سود خور دے، مونږ به هميشه د خپلو مسلمانانو ورونو په باره کښې ښۀ ګمان ساتو) ✿ د مسلمان سپکاوے کول حرام دي ✿ بغير د څۀ شرعي وجهې نه جاهل مسلمان ته هم کنځلې کول، د هغۀ سپکاوے کول حرام دي ✿ د مسلمان ورور سره د درې ورځو نه زياتې خبرې نۀ کول نا جائزه او حرام کار دے ✿ د مسلمان ورور توبه (يعنې معافي) قبلول واجِب دي - (يعنې که د يو مسلمان ورور نه څۀ غلطي وشي، بيا هغه زمونږ نه معافي غواړي نو مونږ دا نۀ شو وئيلے چې دا د زړۀ نه معافي نۀ غواړي، زمونږ د پاره ضروري دي چې د هغۀ معافي قبوله کړو)- (1)

## د اعلیٰ حضرت د امت خيرخواهي او دعوتِ اسلامي

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! اميرِ اهلِ سنت مولانا محمد الياس قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ

---

1... فيضانِ اعلیٰ حضرت (عيسیٰ رضوی)، صفحه: 197-200 ملتقطاً-

العالیہ عاشقِ اعلیٰ حضرت دے، د دوئي جوړ کړے ښکلے تنظيم دعوتِ اسلامي د اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِعلیہ کار، د دوئي د ښودلو طريقو او انداز پۀ مطابق په ټوله دنيا کښې د دين په خدمت او د اُمَّت په خيرخواهئ کښې مصروف دے- اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ د اُمَّت د خيرخواهئ نه ډکه 10 نکاتي فارموله پيش کړې وه، په کومه کښې چې هغوئي رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ

✿ د اسلامي مدرسو جوړولو ✿ د اسلامي اسکالرو په ذريعه د اسلامي لټريچر خورولو ✿ او د نيکئ د دعوت د پاره د مبلغينو تيارولو په شان اهداف مقرر کړي وو- اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ! د دعوتِ اسلامي ✿ په زرګونو مدرسې او په هغو کښې لوستونکي په لکونو طلباء ✿ په ديني معلوماتو مشتمل په سوونو کتابونه ✿ او په زرګونو مبلغينِ دعوتِ اسلامي د اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِعلیہ ورکړې هُم دې فارمولا باندې عمل کولو کښې مصروف دي- د هند يو لوئي عالِمِ دين يو ځل عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه کراچئ په دوره تشريف راوړے وو نو ويـې فرمائيل: **امام احمد رضا خان** رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ **چې د دين د خدمت کوم خوب ليدلے وو، نن زۀ په ښکاره سترګو د هغې تعبير وينم-**[1]

| | |
|---|---|
| اللہ کی نِعمت ہے، یہ دعوتِ اسلامی | آقا کی عنایت ہے، یہ دعوتِ اسلامی |
| سب نبیوں کی ، ولیوں کی ، اصحاب کی اہلِ بیت | کی خاص عنایت ہے، یہ دعوتِ اسلامی |
| فیضانِ رضا ہے اور ، یہ غوث کا فیضاں ہے | خواجہ کی حِمایت ہے، یہ دعوتِ اسلامی[2] |

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## (2): خپل تَشَخُّص بحال ساتئ...!!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د مسلمانانو د ترقۍ او کاميابۍ د پاره دويمه نُسخه کومه

---

1...فیضانِ امام اہلسنّت، صفحہ:9۔

2...وسائلِ فردوس، صفحہ:45،44ملتقطاً۔

چې اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ عطا کړي ده، هغه دا ده چې مسلمانان د دوه قومي نظريې عملي تصوير جوړ شي، يعنې دوه قومي نظريه صرف دا نۀ ده چې مونږه پۀ تقريرونو او ليکلو کښې دا بيانوو، بلکې د دې مطلب دا دے چې مونږ د خپل انداز، کردار، سيرت، عمل او طريقو پۀ ذريعه باقاعده ثابت کړو چې مسلمان بدل وي او غير مسلمه بدل وي۔

يعنې مونږ پۀ هر کچ باندې ❀ نۀ پۀ جامو کښې ❀ نۀ پۀ شکل او صورت کښې ❀ نۀ پۀ طور طريقو کښې ❀ نۀ پۀ عِلم کښې ❀ نۀ پۀ جذبو کښې ❀ نۀ پۀ شوق کښې ❀ نۀ پۀ سوچونو او خيالونو کښې ❀ هُم پۀ هر سطح د غير مسلمو نقل نۀ کوو، هميشه پۀ خپل دِين باندې عمل کوو۔

مشهور حديثِ پاک دے: لَایُؤْمِنُ اَحَدُکُمْ حَتّٰی یَکُوْنَ هَوَاهُ تَبَعًا لِمَا جِئْتُ بِهٖ يعنې پۀ تاسو کښې څوک هم تر هُغه وخته پورې مؤمِن نۀ شي کيدے، تر څو پورې چې د هغۀ خواهشات زما د راوړے شوي دِين تابِع نۀ شي۔(1)

دا دے د کامِل مؤمِن شان، انسان جامې اخلي ❀ پيزار اخلي ❀ د وادۀ د پاره شاپنګ کيږي ❀ په هيئر ډريسر ويښتۀ جوړولو د پاره تلے وي ❀ د لوستلو او زده کولو د پاره کيرير پلاننګ کوي ❀ پۀ دُکان کښې ناست دے ❀ د معاشي ترقۍ خوبونه ويني، غرض که هر ساعت وي، هر حالت وي، هره موقع وي، خوشحالي وي او که غم، د يو مسلمان پۀ زړۀ کښې چې کله هم څۀ خواهش راځي، هُغه خواهش هم د دِين تابِع پکار دے چې د دِين مخالف نۀ وي، چې دا مقام راشي نو هله به د کامِل مؤمِن کيدو مرتبه نصيب کيږي۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** که مونږه خپله ترقي او کاميابي غواړو نو دا دوه خبرې (1): پۀ خپل مينځ کښې همدردي او خير خواهي (2): او پۀ مکمله توګه پۀ دِين باندې

---

1...السنۃ لابن ابی عاصم، جز:1، صفحہ:46، حدیث:15۔

عمل کول، د غیرو د نقل کولو نه بچ کیدل دا دواړه لازمي دي، که مونږ دا دواړه خبرې اختیار کړو نو اِنۡ شَآءَاللّٰہُ الۡکَرِیم! په دُنیا او په اخرت کښې زمونږه تشه کامیابي ده- **الله** پاک دې د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَ اٰلِہٖ وَسَلَّم۔

## د 14 اګست پیغام

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! نن 14 اګست دے- هغه ورځ چې کله **الله** پاک مونږ ته د بېشمېره قربانیانو نه پس یو آزاد اسلامي ریاست راعطا کړو- په کوم کښې چې مونږه په آزادئ سره په اسلامي احکامو عمل کولے شو- دا ملک زمونږه د پاره د **الله** پاک یو ډیر لوئي عظیم نعمت دے-

د سوچ کولو خبره ده! چې ❀ آیا مونږه د دې نعمت قدر اوکړو؟❀ آیا مونږه د شهیدانو د قربانیانو حق ادا کړو؟❀ د کوم مقصد د پاره چې دا ملک جوړ کړے شوے وو آیا د هغه مقصد په پوره کولو کښې مونږ خپل کردار ادا کړو؟❀ آیا مونږه د دې پاکې زمکې په رښتیا د پاکولو کوشش اوکړو؟

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د 14 اګست ورځ عامه ورځ نۀ ده بلکې د وفا د وعدې تازه کولو ورځ ده، دا ورځ مونږ ته دا پیغام راکوي چې:❀ مونږه خپلو شهیدانو ته خراجِ عقیدت پیش کړو، د هغوئي د پاره د فاتحې او ایصالِ ثواب اهتمام اوکړو-❀ دا ورځ مونږ ته پیغام راکوي چې مونږه په مکمله توګه اسلام په خپل ځان نافذ کړو-❀ دا ورځ مونږ ته پیغام راکوي چې مونږه دا پاکه زمکه د دروغو، غیبت، چغلئ، وعده خلافئ، سود او نورو ګناهونو نه د پاکولو کوشش اوکړو-❀ دا ورځ مونږ ته پیغام راکوي چې مونږه د خپل ملک په سرسبزه [او شین] جوړولو کښې خپل کردار ادا کړو-

اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تنظیم دعوتِ اسلامي په دې کارونو کښې وړاندې وړاندې

دے، تاسو ته عرض دے چې د دعوتِ اسلامي د ديني کارونو په ذريعه د معاشرې په اصلاح او د FGRF په ذريعه په فلاحي او سماجي کارونو کښې تاسو هُم برخه واخلئ!

اللّٰه پاک دې مونږ ته د عمل توفيق راکړي! آمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

یاخُدا پاک وطن کی تُو حفاظت فرما | فضل کر اِس پہ سَدا سایۂ رحمت فرما
اِس کو تُو قلعۂ اسلام بنا دے یاربّ | مرے پیارے وَطنِ پاک پہ رحمت فرما
آج ہے امن وطن کا مرے پارہ پارہ | پھر مہیا مرے مولیٰ! اسے راحت فرما
ہائے بدمست گناہوں میں ہوئے اہلِ وطن | یاخُدا سب کو عطا نیک ہدایت فرما
بچہ بچہ ہو نمازی مرے پاکستاں کا | اور عطا جذبۂ پابندیٔ سُنت فرما

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مدني مذاکره

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د نيکو نه د ډک ژوند تيرولو، د ګناهونو نه د بچ کيدو د سعادت موندلو د پاره د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ- په 12 ديني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ، اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! د دِين او د دُنيا بے شميره برکتونه به مو نصيب شي- په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار هفته واره مدني مذاکره هم ده-

اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د دي وخت عظيم علمي او روحاني شخصيت بلکې کامِل ولي دے، هغوئي د هر خالي په ورځ د شپې د ماسخوتن د نـمونځ نه پس مدني مذاکره کوي يعني د ټولې دنيا نه عاشقانِ رسول د تفسير، حديث، شريعت، طريقت وغيره په مختلفو موضوعاتو باندې پوښتنې کوي، اميرِ اهلِسُنَّت د هغه پوښتنو جوابونه ورکوي- هفته واره مَدَني مذاکره د ماسخوتن د نـمونځ نه پس په

مدني چينل باندې نيغ په نيغه (*Live*) ښودلے شي۔

**مدني مذاکره د عقيدې او د اعمالو د اصلاح بهترينه ذريعه ده:** ❁ اَلْحَمْدُلِلّٰه! اوسه پورې په سوونو کافرانو د مدني مذاکرې کتلو سره کلمه وئيلې ده ❁ په لکونو بے نمانځه نمونځ گزاره جوړ شوي دي ❁ د زرگونو زړونو اِصلاح شوې ده۔

**تاسو هم په مدني مذاکره کښې شرکت کوئ!** اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِيم! ❁ عِلمِ دِين به درته حاصل شي ❁ د الله پاک محبت به مو نصيب کيږي ❁ په عشقِ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې به زياتوالے راځي ❁ د گناهونو نه به مو نفرت نصيب کيږي ❁ د نيکئ جذبه به درته ميلاويږي او ❁ په اخلاقو او کردار کښې به مو هم بهتري راځي۔

راځئ چې په مَدَني مذاکره کښې د شرکت د فائدو يو مَدَني سپرلے واورو:

## د ماډرن ځلمي توبه

د يو اِسلامي ورور د ليک خلاصه ده چې د دعوتِ اِسلامي ماحول ته د راتلو نه مخکښې ما په گناهونو کښې ژوند تيرولو۔ هر وخت به مې په زړه او دماغو کښې د فيشن خيال وو او د نيکو نه لرې د دنيا په رنگينو کښې مې ژوند بربادولو۔ يو ځل يو مبلغ د دعوتِ اِسلامي د لاندې په آخري عشره کښې د اجتماعي اعتکاف پوره ترغيب راکړو، هم دا رنگې د الله پاک په فضل او کرم سره زما د اعتکاف سعادت نصيب شو، د اجتماعي اعتکاف خوندور ماحول، زړه راښکونکي بيانونه، د پيشمني او روژه ماتي روحاني نظارې ډيرې ښې ولگيدې، د کرم د پاسه کرم دا وو چې د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه علمي او روحاني **مدني مذاکرو** او د ژړا نه ډکو دُعاگانو د زړه نه د گناهونو زنگ صفا کړو۔ زما د گناهونو په تيارۀ ژوند کښې د عشقِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رڼا خوره شوه۔ ما د خپلو گناهونو نه رښتوني توبه کړه او د امير اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه مې د بيعت شرف

حاصل کړو، اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ! ګيره مبارکه مې پريښوده، عمامه مې پۀ سر کړه او د سُنّتو نه د ډک ژوند تيرولو د پاره مې د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول اختيار کړو۔ [1]

مقبول جہاں بھر میں ہو دعوتِ اسلامی | صدقہ تجھے اے ربِّ غفّار! مدینے کا [2]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## مَدَني قاعِده (*Madani Qaida*) موبائل ايپلي کيشن

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د قرآنِ کريم فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې **مَدَني قاعِده** (***Madani Qaida***) دے۔ پۀ دې ايپلي کيشن کښې مکمله مَدَني قاعِده او د دې آډيو (***Audio***) شامله کړے شوې ده يعني پۀ دې ايپلي کيشن کښې چې تاسو د مَدَني قاعِدې پۀ کوم حرف يا کوم لفظ باندې کلک (***Click***) کوئ، پۀ آډيو (***Audio***) کښې به د هغې **تَلَفُّظ** چليږي، داسې د دې ايپلي کيشن پۀ مرستې سره پۀ اسانئ سره مَدَني قاعِده لوستل، د دې مشق (***Practice***) کول او صحيح مخارج او ضروري تجويد زده کيدے شي۔ دا ايپلي کيشن پۀ خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

✿ د هر خالي پۀ ورځ اميرِ اهلِسُنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه پۀ **مَدَني چينل** باندې **لائيو هفته**

---

1…بدچلن کیسے تائب ہوا؟، صفحہ:12 تا 14 بتغیر۔

2…وسائلِ بخشش، صفحہ:180۔

واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکې خالي پۀ ورځ به هم د ماسخوتن د نـمونځ نه پس (تقريباً 9:30 بجې) پۀ مَدَني چينل اِنۡ شَآءَاللّٰہُ الۡکَرِیۡم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پۀ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د اِمام احمد رضا رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ 25 خبرې د يو عاشقِ پۀ قَلم رسالې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئې دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (*Share*) کړي! ❁ حضور داتا ګنج بخش علي هجويري رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د بر صغير مشهوره او معروفه هستي ده، د پاکستان خو کيدے شي چې ماشوم ماشوم د هغوئې د نوم مبارک نه خبر وي- د هغوئې سيرت مبارک د مسلمانانو د پاره د لارې بَل مثال دے- د هغوئې د سيرت د مختلفو اړخونو نه د څان خبرولو د پاره ولولئ د مکتبة الـمدينه ډيره فائده منده رساله ده فيضانِ داتا ګنج بخش- دا رساله د مکتبة الـمدينه د يوې څانګې نه پۀ 50 روپۍ پۀ بيعه واخلئ يا يې د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه ډاؤن لوډ کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ- ❁ د 1500 کلن جشنِ ولادت پۀ خوشحالۍ کښې د مکتبة الـمدينه شاندار پيشکش- **د 25 صفر شريف د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د زيږون د ورځې (19 اګست) نه تر د تحفظِ عقيدۀ ختمِ نبوت د ورځې** (7 ستمبر) پورې يعني **د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د عُرس** نه تر **تحفظِ عقيدۀ ختمِ نبوت د ورځې** پورې د مکتبة الـمدينه ټول پروډکټس پۀ 15 فيصده خصوصي ډسکاؤنت باندې حاصل کړئ! دغه شان پۀ دې عظيمه موقع باندې مَدَني جنډا (د هر

سائز) ✿ د موټر سائیکل ✿ موټر ✿ د میز جنډې ✿ فلاور اِسټک ✿ اور د زړۀ راښکونکو نعلین شریف بیجونه ✿ او پۀ جشنِ ولادت کښې د دعوتِ اِسلامي د بېنړو آرډر هم د مکتبة المدینه پۀ دکانونو کښې ورکولے شئ- تادي وکړئ، د جشنِ ولادت تیاري هم وکړئ او فائده هم حاصله کړئ!

## 1500 کلن جشنِ ولادت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** حضرت بي بي آمِنه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا فرمائي: ما وکتل چې درې جنډې لګولے شوې دي ✿ یوه پۀ مشرق کښې ✿ دویمه پۀ مغرب کښې ✿ دریمه د کعبې پۀ چت او زمونږه د سترګو تور، د زړۀ ټکور، د حُسن او د جمال نمونې، دلرُبا او دِلبَر صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې دُنیا ته تشریف راوړو-(1)

| | |
|---|---|
| سَحر کا وقت ہے معصوم کلیاں مُسکراتی ہیں | ہوائیں خیر مقدم کے ترانے گنگناتی ہیں |
| ابھی جبریل اُترے بھی نہ تھے کعبے کے منبر سے | اتنے میں صدا آئی یہ عبد اللہ کے گھر سے |
| مبارک ہو شہِ ہر دو سرا تشریف لے آئے | مبارک ہو مُحَمَّد مصطفٰے تشریف لے آئے(2) |

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! دا ځل د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **1500 کلن جشنِ ولادت** راروان دے-

| | | | |
|---|---|---|---|
| 1500 واں جشنِ ولادت | مرحبا! صد مرحبا! | آئے شاہِ ختمِ نبوت | مرحبا! صد مرحبا! |
| آئے تاجدارِ رسالت | مرحبا! صد مرحبا! | آئے جہاں میں جانِ رحمت | مرحبا! صد مرحبا! |
| صاحبِ عظمت و شان و شوکت | مرحبا! صد مرحبا! | سب سے بڑی اللہ کی نعمت | مرحبا! صد مرحبا! |

1 ... خصائص کبریٰ، جلد:1، صفحه:82 مختصراً-
2...کلیاتِ ماہر، صفحه:7170 ملتقطاً-

آمنہ چمکی تیری قسمت | مرحبا! صد مرحبا! | گود میں آئی ربّ کی رحمت | مرحبا! صد مرحبا!

پوره تیاریانې وکړئ ❁ د ښو رڼاګانو کولو ❁ پهٔ کورونو ❁ پهٔ ګاډو باندې د مَدَني جنډو نخپله د لګولو او نورو له د لګولو ❁ د صبح بهاران او د میلاد پهٔ جلوس کښې د شرکت کولو، د نورو د شریکولو نیت وکړئ! **اللّٰه** پاک دې د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اسلامي هر کال د اګست په میاشت کښې شجر کاري کوي، د دعوتِ اسلامي په دې نعره "**بوټے لګول دي ونه جوړول دي**" کښې تاسو هم شامل شئ او د شرعي احتیاطونو سره کم از کم یو بوټے لګولو سره هغه د ونې جوړولو کوشش اوکړئ! د بیان پهٔ آخره کښې د شجر کارئ (Plantation) په باره کښې یو څو مدني ګلونه پیش کوم۔

## ونه وکرئ! ثواب وګټئ!

**2 فرامینِ مصطفٰی** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم: **(1)**: چا چې کومه ونه وکرله او د هغې په حفاظت او خیال ساتلو یې صبر اوکړو تر دې چې هغې میوه کول شروع کړه نو د هغې نه خوړلے کیدونکې هره میوه د **اللّٰه** پاک په نزد د هغهٔ (یعنې نالوونکي) د پاره صدقه ده۔[1] **(2)**: کوم مسلمان چې ونه اولګوي یا فصل وکري بیا د هغې نه یې چې کومه مرغۍ، انسان یا څاروے اوخوري نو هغه به د هغهٔ له طرفه صدقه وي۔[2]

1…مسند احمد، جلد:6، صفحہ:701، حدیث:17037۔
2…مسلم، کتاب المساقاة، باب فضل الغرس والزرع، صفحہ:604، حدیث:1553۔

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د ونې نالول د نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه ثابت دي، د صحابۀ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم سُنَّت دي ✿ نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت سلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د پاره تقريباً 300 د کجورو ونې په خپلو مبارکو لاسونو نال کړې وې[1] ✿ په دغه ونو کښې يوه ونه د مسلمانانو دويم خليفه حضرت فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم نال کړې وه[2] ✿ حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم ونې نال کړې وې۔[3]

**په تفسير کبير کښې دي:** د نهرونو جوړولو او شجر کارۍ کولو (يعني ونې کرلو) په وجه به د فارس (ايران) د بادشاهانو عمرونه اوږدۀ وو۔[4]

**د ونو فائدې:** ✿ ونې او بوټې کاربن ډائي آکسائيډ جذب کوي او ✿ آکسيجن خارِجوي ✿ فضائي ګندګۍ کموي ✿ ماحول يخ او خوشګواره کوي ✿ لينډ سلائيډنګ (يعني د ګټانو يا د خاورې ختان رانسوئيدو) نه حفاظت کوي ✿ په ګلوبل وارمنګ (Global Warming يعني د دنيا په زياتيدونکې درجۀ حرارت) کښې د کمې سبب جوړيږي۔[5]

**د ونې لګولو احتياطونه: خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** مونږ له بوټې نالول هم دي، او هغه ونه جوړول هم دي، لِهٰذا ✿ د بوټي لګولو نه پس هغې ته باقاعده اوبه ورکوئ! ✿ د هغې صفائي او ✿ [فالتو] ښاخونو پرې کولو خاص خيال ساتئ! ✿ په عامو لارو باندې چرته چې تلو راتلو والؤ ته تکليف رسي يا ✿ چرته چې قانوناً منع وي ✿ او د چا په ذاتي ملکيت کښې بوټې مه نالوئ! ✿ که د چا د پاره بهر د بوټي لګول ممکن نۀ وي نو هغۀ دې

---

1...دلائل النبوة، باب ماظهر فی النخل التی غرسها النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم...الخ، جلد:6، صفحه:97بتصرف۔

2...دلائل النبوة، باب ماظهر فی النخل التی غرسها النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم...الخ، جلد:6، صفحه:97۔

3...ابن ماجه، کتاب الادب، باب فضل التسبيح، صفحه:610، حديث:3807ماخوذاً۔

4...تفسير کبير، پاره:12، هود، زيرِ آيت:61، جلد:6، صفحه:367بتصرف۔

5...درخت لگايئے ثواب کمايئے، صفحه:8ملتقطاً۔

په خپل کور کښې په ګلدانونو کښې واړۀ واړۀ بوټي اولګوي-[1]

د بوټو لګولو د نورو فضائلو، فائدو او احتیاطونو باندې پوهیدلو د پاره د امیرِ اهلِ سنت مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُھُمُ الۡعَالِیَہ ډیره ښکلې رساله "درخت لگایئے ثواب کمایئے" د مکتبةُالمدینه نه حاصله کړئ یا یـې د دعوتِ اسلامي د ویب سائټ نه ډاؤن لوډ کړئ- دا رساله پخپله هم اولولئ! نورو ته هم ترغیب ورکړئ او په سوشل میډیا مثلاً په واټس ایپ وغیره باندې یـې د رضائے اِلٰهي او د ثواب د پاره نورو ته هم شیئر (Share) کړئ!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بیان په اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنۡ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدۡ اَحَبَّنِی وَمَنۡ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الۡجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغۀ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغۀ به په جنّت کښې زما سره وي- [2]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدینه د بهارِ شریعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُھُمُ الۡعَالِیَہ د 91 صفحو رساله 550 سنتیں اور آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

پاؤ گے بخششیں قافلے میں چلو | جنّتیں بھی ملیں، قافلے میں چلو

1...درخت لگایئے ثواب کمایئے، صفحہ: 7-13-15 ملتقطاً-
2...تاریخ دمشق، جلد: 9، صفحه: 343-

رِزق کے دَر کھلیں، قافلے میں چلو | برکتیں بھی ملیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [يعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمۡ وَبَارِكۡ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِالنَّبِیِّ الۡاُمِّیِّ الۡحَبِیۡبِ الۡعَالِی الۡقَدۡرِ الۡعَظِیۡمِ الۡجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحۡبِہٖ وَسَلِّمۡ

### ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو د کښيناستلو نه مخکښې او که

1 ... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَ سَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

ځوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لا که دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ

صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَۂ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم حيران شول چې دا ځوك

---

1 ...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2 ...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

ذِی مَرتبه [یعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰی لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّ اَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې

1... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

2... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

3... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ١٠/٢٥٤، حديث:١٧٣٠٥

شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الۡحَلِيۡمُ الۡكَرِيۡمُ، سُبۡحٰنَ اللّٰهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبۡعِ وَرَبِّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِيۡم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1 ... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵